# دعلامه بابا د اووم تلین په درشل کې



بسی دوربايد که چرخ ظفر      بيا رد کسی چون توبارديگر

## رشاد پوهنه،
## په افغاني ادب کې د شلمې پېړۍ ديوه نوي(ادبي)
## او (فرهنگي) خوځون اوپاڅون پيلامه

پوهنوال دوکتورعبدالخالق رشيد
۲۰۱۱/۱۱/۲۸
********************

(۱)
د آراستوګنو(اصلي اوسيدونکو) داند او ژوند او مبارزې تيوري

«زما زويه، زما تن د مځکې مور په لور ورګرزي او زما روح به زر د لوی چيف له روح سره ميلا و شي. کله چې زه ولاړم، دخپل هيواد په اړه دې سوچ وکړه، ته ددغو خلکو مشر يې، ددوی سترګې تا ته دي چې لاربښونه يې کړې، په ياد دې اوسه چې ستا پلار کله هم خپل هيواد نه دي پلورلي ته بايد خپل غوږونه پټ ونيسې، کله چې ته دخپل کور دپلورلو لاسليک ته وربلل کيږې په يوڅو نورو کالوکي به ستا شاخوا په سپينووګړو باندې ډکه وي ، دوی ستا دغې خاورې ته سترګې نيولې دي. زما زويه! زما و صيت کله هم هير نه کړې، دغه هيواد ستا دپلار تن په خپله غيږه کې نيولی، دپلار او مور هډوکي دې کله ونه پلورې.»

[د چيف جوزيف پلار دځنکندن پرشيبه]

شلمې پيړۍ اودهغې په ترڅ کې علمي اوفرهنګي خيړنوديوشميرلرغونوملتونواوفرهنګونو دشته والي او دهغوی د کلتوري ارزښتونو دبيا راژوندي کولواو دبيلابيلو ملتو نو دملي هويت دخوندي ساتنې په برخه کې خپله لويه او جوړونکې دنده په علمي توګه ترسره کړه، په دغه برخه کې ډيروهغوولسونو هم دبريوپه لورخپله لاره وايسته چې دبيلابيلوعواملو په ترڅ کې له فرهنګي اوتاريخي پلوه بې هويته او دخپل شته والي له دغه تاريخي رمز څخه لرې پاتې کړل شوي وو او ياداچې دنورو فرهنګی هستيو دومره ترخپل اغيزاوستم لاندې راوستي وو چې نه يوازې يې له خپلو هغوڅخه خبرنه وو، بلکه هغه داسې ورته ښکاريدې چې ګواکي دا نه ددوی وې، نه دوی په خپلو هغوتيرو پورې له سره تړلي وو او نه يې له هغوسره په يوه اوبل لامل ځان تړلای شو.

له دغوبې برخه کړل شويو ملتونوسره هم دشلمې پيړۍ علمي او تخنيکي پرمختګ دخپلونويوڅيړنو په برکت لويه مرسته وکړه او له نسلونواوپيړيو وروسته يې دخپلوتيروپه لور وروهڅول او دهغوی په لوريې په شعوري توګه متوجه کړل.

دلته يوه خبره دا هم وه چې يوشميرپرغلګروقومونو دخپلو ښکيلاکي موخواوهلوځلو په ترڅ کې د ځاني فرهنګی لوړتيا اوبرلاسی لپاره داسې پيرې اوکړه وړه هم راپيل کړل چې له هغو څخه يې موخه يوازې او يوازې داوه چې دځان


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

دبرلاسي اوبادارئ په خاطردملتونواوقومونو له معنوي وسيلوڅخه هم دځان په ګټه کاراخلي ،ماناداچي دوی باید ان دهغو له مخي هم محکومو ملتونوته داوښيي چي دوی نه یوازې له مادي او پوځي پلوه داحق لري چي پردوی باندي برلاسي وي، بلکي ان چي په معنوي توګه هم دوی داچانس او واک لري چي پرهغوی باید ځان برلاسي وښيي او دخپل دغه مصنوعي برلاسي له مخي باید محکومان او هغوی چي اوس له خپلي مادي او معنوي تيرې څخه لرې شوي او بې برخي شوي باید د دوی نوکران اوددوی خادمان وي.

دوی د خپلودغوناوړوکړو وړو ترسیوری لاندي داهم په پټوسترګو اوهم په زور پرهرچا زغمله چي دوی ګواکي دنړې پرمخ دتمدن بنسټوال او پاسوال دي اوهرڅه دوی دغي نړې ته ایجاد او وړدالی کړي دي، هغوی کله کله په دغه برخه کي دومره په افراط هم ورګډشوي چي ان دنورو انسانانو له کړو وړو او فرهنګي وړتیاوو یې انکار کړی اوهغوی یې له انساني دایرې ایستلي اود ځلوربولو په کتارکي یې درولي او شمیرلي دي. هغوی نه یوازې داچي ځانونه یې دتمدني وړتیا له مخي بادارګڼلي، بلکه په دغه ترڅ کي یې نژادي، قومي، ژبني او نورې بدمرغی، هغه چي دانساني شته والي اوخلقت له قانونمندی سره تل په ټوپیرکي وې کاراخیستی او دهغولپاره یې هم له خپلي خوښي سره سمه په خپل فکراو خیال جوړه کړي قانوني وړتیا په ګوته کړې ده.

اوسني پرمختللي تمدن سره له دي چي بشریت یې په ډیرو برخوکي له نویو کړو وړو او نویو برياوو سره مخامخ کړخو په څنګ کي یې داهم بایدله یاده ونه باسو چي د پرمختګ په لوردغه خوځون هم دومره آسانه اوبې مطلبه نه و اونه دي لکه چي اوس په خپلي ظاهري څیرې سره موږ ته ځان ځلوي.

اوسني تمدن په خپلي ټولي وړتیا سره اوس هم بشریت دمځکي پرمخ په ډیرو سیمواووچوکي دبې هویتي اوله خپل اصل سره دبیلتانه په پوله درولی او ورمخه کړی دی، یوازې دانګریزي ښکیلاک په دوره کي بشریت تر ځلوېښتو زیاتي ژبې دانګریزي ژبې په ځل اوبل کي بایلولي دي، چي له هغوسره په یوه وخت کي په څرګنده ددغو ولسونو فرهنګ ،تاریخ ، ادب او دهنرټول ډولونه له منځه تللی دي، چي تراوسه پورې ددغه فرهنګی اوانساني څپاو او ناورین عاملین دبشریت په وړاندي دبښني سرنه ټیټوي او ځانونه یې داسي ناګاراچولي چي لږ ترلږه نه خپله اشاره ورته کوي اونه نورو ته اجازه ورکوي.

لویدیزفرهنګي ښکیلاک په تیرو د وو دریو پیریو کي دخپل صنعتي برلاسي په خاطر دډیرو ملتونو دشته والي او هستیو خیال ونه ساته، دهغو دورکي او بربادی پروایي ونه کړه اونه یې تراوسه په فکرکي دي، دوی دلویدیزتمدن تر وزرو لاندي دنړې زیات ولسونه دجګړو په ترڅ کي نه یوازې له خپلو جغرافیو څخه بې برخي کړل، بلکه دې ته یې هم ناچارکړل چي باید اړیکي یې له خپل لرغوني ټاټوبي اوتیرمعنویت سره پرې شي، دوی یې له خپلو ګروهو اوباورونو څخه پردي کړل ، ددې پرځای چي دهغوی مذهب اومعنویت ته درناوی وکړي ، برعکس هغوی یې له خپلو پخوانیوارزښتونوڅخه لرې وساتل اوخپل هغه یې پرومنل، دجنوبي آسیا، شمال امریکا زیات آراستوکني ولسونه په دغه ظالمانه معامله له خپلو لرغونو ګروهوڅخه پردي شول اوهغه څه چي دوی یې دایجاد، نمانځنی اوپا لنې ویاړ درلود، هغه یې ګرده ترې واخیستل، خپله عقیده یې دخپلو سیاسي او مادي امتیازاتو په زورپرې ومنله. دجنوبي آسیا په اړه دنړې دخواخوږي بشریت لپاره داخبره په دې دحیرانتیاوړده چي دلته دزرګونو کلونو لرغوني باوري تګلاره (بودیزم ) دغو تش په نامه متمدنو ښکیلاګګرو په شلمه پیړۍ کي دیوې جدي مسالي په توګه چي باید په عیسویت یې واړوي ترلاس لاندي ونیوه اودهغي لپاره په دغه پیړی کي چي دموکراتیک شعاريي د انساني حاکمیت په نامه هرې خواته خورکړ په یوې توطیي باندي لاس په کارشول او په دومره سپین سترګی سره یې بودیزم دماتي منګولو ته واچاوه چي هیڅا هم په دغه باره کي دا ونه ویل چي دوی ولي په لوی لاس دیوه معنویت اویوه لرغوني تمدن په وړاندي لاس په دغه سترجنایت باندي پورې کوي؟ (*)

---

(*) په هند او جنوبی آسیا کي دبودیزم په اړه ددوومذهبو پیروانو په خپل وخت کي د خپلو واکمنانانو په مرسته دورکي او اړولو درني او نه هیرودنکي ناوړې کاروایی کړي په منځیپیریو کي هندویزم په هندکي او په معاصر وخت کي عیسویت په جنوبي آسیا ( هان ګانګ ، جنوبي کوریا ، فلیپین ) اونورو هیوادوکي .

په هرډول، بشریت دتکنالوژی په دغه متمدن عصرکي دخپل معنویت په وړاندي داسي یوه غمیزه په سترګو ولیده، چي تراوسه دملتونو دتاریخ په پاڼوکي دبشریت له شان سره برابره نه وه، خودوی ترسره کړه اوځومره انسانان چي په دغه پیړۍ کي دښکیلاکګرو ددغه حرص او آز قرباني شول، دومره په یوه پیړی کي هم نه وو قرباني شوي .

سره له دې چي داکار یوشمیرتش په نامه په دموکراسي باوروترسره کړ، خودعلم اوپوهي پیروانو سره له دې چي ډیرګران ورته تمام شودهغو له عاملینوسره بدرګه نه کړ، کوم څه چي دغو رښتیانیو (پوهانواومفکرینو) په خورا شهامت سره په زړه کي ونه ساتل هغه داوو چي دنړې دزیات شمیرولسونو په وړاندې یې هغه تیروتني اوغمیزې چي تردغه وخته ښکیلاکي ځواکونو اودهغو تیوریو دخپلو دوکتورینو په توګه پرکرسی کینولي وی دیوه بشري ناورین او تیري په


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

توګه دعامه افکارو ډګرته راوایستي، اوهغه شیطانی نیتونه چې ددغو افکارو دتحقق په خاطریې پرانساني ژوند باندې دتوپیرونو پرزورواکمني کوله له یوه سره یویو په ډاګه او رسوا کړل.
ددغوخیړنوپه ترڅ کې چې نړۍ یې په رښتیا هم له یوه څرګند بدلون اوځرګندي هینتیا سره مخامخ کړه هغه دآراستوګنو(اصلي اوسیدونکو) Native people

ولسونو داندوژوند څیړنه دیوه داسي واقعیت په توګه وه چې تراوسه پورې له هغې سره چا تماس نه شونیولای، خوربښتیا پلووپوهانو، لیکوالو او روڼ اندو دغه کارته دزمان دیوه حقیقت اواړتیا په توګه پاملرنه وکړه اوپه دغه ترڅ کې یې ځانونه د یوه رسالت له مخې ددغه انساني مسوولیت په ډاګه کولو ته ونده کړل.
اروپایی سپینومفکرینوهم داخبره ومنله چې د دوی ظالمو واکمنانو او متعصبو مذهبیونودنړۍ پرمخ له امریکا رانیولې ترافریقا او آسیا پورې دآدم دبچیانو په وړاندې دنیرنګونو داسي یوجال هم خورکړی وچې په هغه سره یې دنړۍ زیات شمیر ولسونه له خپلوروا مادي او معنوي حقونو اوان فرهنګی وړتیاوو او هستیوڅخه بې برخې کړي ول، دوی داهم وویل چې اوس ددې وخت دی چې باید ددغوظالمواوسني نسلونه د مظلومو ولسونو داوسنیو نسلونوپه وړاندې ګونډې ووهي اوباید دخپلو ظالمو او حق پایملوپلرونو له امله له هغوی څخه په اوسنی پرمختللي نړۍ کې دیوهراړخیزانساني تفاهم لپاره ددغې تورې بشریت ضد جفا له امله نړیواله بښنه وغواړي.
د آراستوګنوولسونو مشکل اوستونزه یوه نړیواله ستونزه وه اوده، په لویدیز په تیره دامریکا په وچه کې آراستوګنو ولسونو داروپایي لوړتیا غوښتونکو سپین توکمود څپاوونو په پایله کې ډیرې بدې ورځې ګاللي وې، همداوه چې دغې مسالي دټولنپوهني ،بشرپوهني، روانپوهني اونورو علومو ژوره پاملرنه پرخپله خوا ورواړوله او ددغه کړکیچ په بیلابیلو اړخونو باندې ددغو علومو پوهانو په بیلوبیلووچو کې بیلابیلې علمي خبرې او لیکنې راپیل کړې.
د دغو علمي خبرو او څیړنوپه ډګرکې یوه نیکمرغي داهم وه چې ددغې انساني غمیزې دروښانولوپه ترڅ کې یوشمیرخواخوږې دبرلاسو سپینوله منځه هم راپورته شول، له دوې سره هم یوښه لامل داو چې آراستوګنوولسونو ځان په دغه زماني واټن کې په ډیرجرآت سره ځان ددې جوګه کړ چې باید دخپل هویت او پیژندنې په برخه کې له یوه اوږده ځنډ او ستم وروسته دخلاصون په لورګام واخلي، په عمومي ډول دغه جرات د دوی دملتیا لامل شواودآراستوګنو خلکواندو ژوند په خپل واردلویدیزد ادب او ژوند په پانو کې یونوی څپرکي پرانیست.
په دغه اړه یوه خبره که څه هم دتوکي په بڼه په لویدیزاو ختیزو تولنوکي ویله کیږي خو په اصل کې نوموړې خبره په خپل وار دیوه درانه اغیز لرونکي ده، خبره داده چې وایی: (( کله چې سپین مبلغین راغلل، له دوی سره انجیلونه وو او له آراستوګنو سره مځکه ، خو اوس له آراستوګنوسره انجیلونه دي اوله سپینو سره مځکه ... ))
دیوې دقیقي رښتیا په توګه داخبره دیوه ژورانساني درد اوغمیزې انعکاس بللای شو چې په هراړخیزه توګه دنړۍ پرمخ دهغه بشري ناورین لکه چې دمخه مو اشاره ورته وکړه څرګندونه کوي، ماناداچې په دغه اړه چې هرڅه ویل کیدل او یا اوس هم ویل کیږي، هغه ګردسره دهمدغو (آراستوګنو) ولسونودمسالي د برجسته کیدو په خاطر هلته اودلته ترسره شوي او ویل شوي دي اوداهغه انساني غږ اوپوښتنه وه چې دشلمي پیړی په ترڅ، دنړۍ په بیلابیلو برخو کې، دآراستوګنو(اصلي اوسیدونکو) استازو، روڼ اندو، لیکوالو او فرهنګیانو چې زور ځواکوملتو، فرهنګونو او ژبو بې ملته، بې فرهنګه او بې ژبوکړي ول واورید اوځواب یې کړ.
(۲)
آراستوګنی غورځنګ اونړیوال ادبیات
دآراستوګني اندو ژوند دعلمي تیورۍ په اړه یوه بله دپاملرنې وړ خبره دا ده چې دغه مساله یوازې په ټولنیزاوترډیره حده په سیاسي چاپیریال پورې تړلې پاتې نه شوه، بلکه یوه بل پیاوړې ملاتړلوري ته چې هغه ادبیات او هنري ایجادیات ول، هم په خورا پیاوړتیا سره ورسیده، اوپه دغه ډګرکې یې هم دیوې مهمې ،اړینې او ستونزمنې مسالي په توګه خپل ځای وموند، په هنراوادبیاتو کې ددغې انساني - حقوقي مسالي انعکاس سره له دې چې په هغه شان لکه چې په ټولنیزو علومو کې و، نه شو شمیرلای، خو دومره ویلای شو چې ددغې مسالي اغیزپه ادبیاتواوهنري هستونوکي ترهغوهم ژوندی اوهم عاطفی و، په دې مانا چې نوموړې موضوع په ادبیاتوکې دیوې جالبې او حیرانونکې موضوع په توګه خپله عیني او ذهني وړتیا وښوده، په دغه ترڅ کې په سلګونولیکوال او شاعران له امریکا ترآسیا اونورو سیموپورې په بیلابیلو ژبوکې راوپرکیدل اوپر دغه نوی اغزنه او کړلیچه جاده یې له ښکیلاکي او زورزیاتي دورڅخه وروسته دیوه نړیوال بهیر په توګه خپل اغیز په خپلودمونواو قدمونو باندې ویوست.
دهنري ادب پاسوالو په خورا جرات سره وکولای شول چې په خپلولیکنوکې پر دغه نوی بهیرباندې ورمخه کړي، په لاتینه امریکا او په خپله امریکا کې په سلګونو ادبي شهکارونه پر همدغه موضوع ( آراستوګني اندو ژوند ) باندې داسي را ایجاد کړل، چې په هغوکي مرکزي ټکي او موخه همدغه موضوع ( آراستوګني ) اودهغې موضوعي کرکترونه وو.
په امریکا یی او کاناډایی ادبیاتو کې دغه بهیر دیوه پراخ شعوري ادبي حرکت په توګه رامنځ ته شو، دیوه ټولنیز، تاریخي اوجغرافیایي محرومیت د بیا اعادې په نامه یې د شلمي پیړۍ په زړه کې دیوه نوي ادبي رنسانس په توګه دلیکوالو اوهنرمندانو پاملرنه ور واړوله چې ډیره زر یې خبره په ټوله امریکایي وچه کې یوه انساني خپلواکه سراسري


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

هنګامه شوه او له همدغه ځایه دغه بهیر په ډیره چټکۍ په ټوله نړۍ کې په یوه سراسري بهیرباندې واوښت، داسې چې ان دیوه جالب ادبی ډول (ژانر) پړاو ته یې ځان په ادبیاتوکې ورساوه . ددغوادبیاتوپوهو په د غه اړه وایي چې:

“ I think one reason why Native literature is so interesting is that while it is based on very old traditions ,as a literature it is quite young. As are the authors . A high percentage of the writers that we’ve included are under fifty, many under forty. That contributes to the feeling of innovation and yet always with a sense of tradition.

*(Native literature in English , edited by Daniel and others , Canada , 1948 preface xiv)*

*« زه فکرکوم، یولامل چې ولی آراستوګني ادبیات ډیرجالب او دپاملرنی وړدي ، دادی چې دغه ادبیات دزړو دودونو پربنسټ رامنځ کیږي ، دا دادپ په توګه ډیرځوان دي ، همداسې یې دلیکوالو سلنې زموږ په ګډون تر پنځوس راتیټ زیاتره په څلوېښتو کې دي ، چې احساس او نوښتي هڅه یې تر زیاتی اندازې تل پر دودیز شعور باندې ولاړه ده .*

په دغه برخه کې دنړیوالو لیکوالو اوکره کتونکو په اند یوه خبره ډیرمهمه وه او هغه داچې په ادب اوهنرکې یې ددغو آراستوګنو خلکو معنویت انعکاس وموند همداده چې پوهانوپه دغه برخه کې دغه ټکي ته اشاره کوي چې:

… yes I agree with you that the majority of Native writing has something that can be called spiritual.( Ibid p xiv)

« هو، زه له تاسره موافق یم ، آراستوګنه لیکوالي ، هغه څه ده چې کولای شو،هغه یومعنویت وبولو .»

دیوه رښتیاني فکت په توګه اوس لویدیزتولنپوهان او اد ب پوهان په دغه ټکي سره یوه خوله دي چې شلمې پیړۍ سره له دې چې بشریت ته یې له خپلوښیګړو سره ډیرې ستونزې هم راوزیږولی یوه داځانګړتیا درلوده چې تراوسه هم پرهماغه لوري روانه ده هغه داده چې دغه پیړۍ ډیره زیاته مادي پیړۍ وه، ښایې څوک له ماسره داومنی اویانه ددغې پیړۍ په ترڅ کې دبشریت معنویاتو ته یې سخت او دروند زیان ورسید، زه په دې باورنه یم چې ګواکې دمعنویت دکمزورۍ لامل په یوه نظام لکه سوسیالیزم او کمونیزم اویا امپریالستی تش په نامه دموکراسۍ باندې ور واچول شي، پرهغونظامونوچې بنسټ یې په ورانکاره پانګواله ایدیالوژي اوماده پالنه باندې ولاړ و، نه داځکه چې معنویت کله هم دومره ټیټ ارزښت نه و اونه دی چې هغه باید دیوه نظام په واسطه کمزوری او یاهم له بی پروایی سره مخامخ شي، دمعنویت په وړاندې مقابله او سیالي له فردي دریځ اواغیزه رانیولی ، بیاترکورنی، ولسي او له هغه وروسته سیاسي او اقتصادي لاملونو ته رسیږي. فرد، کورنې، ټولنه، ملت او نړیوالتوب داټول آرونه په دغه برخه کې دپاملرنې وړدي اوهریویې په دغه برخه کې خپل خپل اغیز لري.

لویدیزه ټولنه سره له دې لکه چې یادونه وشوه، هرڅه لري، په هرڅه پوهیږي،خو په معنوی لحاظ یې ژوند دپرمختګ او وړتیا څه له ځان سره نه لري، په دې چې په دغه ټولنه کې انسان ترهرڅه دمخه ځان له خپل اصل او له خپل تیر څخه دیوه تخنیکی ځل بل په بدل کې بیلوي، انسان پخواني ټولنیز، عقیدتي اواخلاقي نورمونه له منځه وړي او دنویوهغو دپوره زده کولواو راخپلولوپاره عمراو وړتخنیکي بوختیاوې یاري نه شي ورسره کولای ځکه نوپر هغه څه چې دی باید دهغو دمعنوي تجربو په رڼاکې وروزل شي هغه له لاسه ورکوي مانا داچې پرون یې له نن او نن یې له سبا سره خپل معنوي پیوستون دژوند په یوه ساحه کې هم نه شي ساتلای، علامه اقبال دغه مساله په خپل اثر (رموز بیخودي ) کې په ډیره ظریفه ژبه تشریح اوانځورکړي په لاندې ډول:

کودکی را دیدی ای بالغ نظر  کوبود از معنی خود بی خبر
نا شناس دور و نزدیک آنچنان  ماه راخواهد که برگیرد عنان
ازهمه بیگانه آن مامک پرست  گریه مست وشیرمست وخوابمست
زیروبم را گوش او درگیرنیست  نغمه اش جز شورش زنجیرنیست
ساده و دوشیزه افکارش هنوز  چون گهر پا کیزه گفتارش هنوز
جستجو سرمایه یی پندار او  ازچراچون کی کجا گفتار او
نقش گیر این وآن اندیشه اش  غیرجویی غیربینی پیشه اش
چشمش از دنبال اگر گیرد کسی  جان او آشفته می گردد بسی
فکر خامش درهوای روزگار  پرگشا مانند باز نو شکار
درپی نجچیر ها بگذاردش  باز سوی خویشتن می آردش
تا ز آتشگیری افکار او  گل فشاند زرچک پندار او
چشم گیرایش فتد برخویشتن  دستکی برسینه می کوبد که «من »
یاد او با خود شناسایش کند  حفظ ربط دوش وفردایش کند
سفته ایامش درین تار زرند  همچو گوهر ازپی یک دیگرند
گرچه هردم کاهد افزاید گلش  «من همانستم که بودم » دردلش
این «من » نوزاده آغاز حیات  نغمه ی بیداری ساز حیات
ملت نو زاده مثل طفلک است  طفلکی کو درکنار ما مک است


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

طفلکی ازخویشتن نا آگهی — گوهر آلوده ئ خاک رهی
بسته با امروز او فرداش نیست — حلقه های روز وشب درپاش نیست
چشم هستی رامثال مردم است — غیر را بیننده و ازخود گم است
صد گره از ریشته یی خود وا کند — تا سرتار خودی پیداکند
گرم چون افتد بکار روزگار — این شعور تازه گردد پایدار
نقشها بر دارد و اندازد او — سرگذشت خویش را می سازد او
فرد چون پیوند ایامش گسیخت — شانه ی ادراک او دندانه ریخت
قوم روشن ازسواد سرگذشت — خود شناس آمد زیاد سرگذشت
سرگذشت او گر از یادش رود — باز اندرنیستی گم می شود
نسخه ی بود ترا ای هوشمند — ربط ایام آمده شیرازه بند
ربط ایام است مارا پیرهن — سوزش حفظ روایات کهن
چست تاریخ ای زخود بیگانه یی — داستانی قصه یی افسانه یی ؟
این ترا ازخویشتن آگه کند — آشنای کارو مرد ره کند
روح را سرمایه تاب است این — جسم ملت راچواعصاب است این ...
(کلیات اقبال زموزبیخودی ص ۱۰۰ )

دعلامه اقبال په اند هم خبره پرهمدغه رمز باندې ولاړه ده، همداده چې هلته انسان له یوې پراخې نړۍ څخه په یوه وړه او محدوده نړۍ کې راګیرکیږي چې په پای کې له هغې څخه دوتلو توان هم ډیرزر له لاسه ورکوي.
دغه اوږده کیسه او دغه اوږد بهیرپه لویدیزه ټولنه کې دم ګړۍ ددې لامل شو، چې آراستوګنو هنري ادبیاتو په غربي ټولنه کې خپله لاره وموندِه چې لوی لامل یې داوه چې دغوایجادیاتودتخنیکی پرمختګواو وړتیاوو په زړه کې انسان دیوه پیاوړي معنویت په لور وخوځاوه، دغه ټکی سره له دې چې ددغو ادبیاتو دځیرونکو په خبره په پیل کې عام اوعملي اغیز نه درلود خو داچې دطبعیت او معنویت ځانګړتیا ورسره مله شوه، نوبیا ډیر زر دخلکو دپاملرنې وړشول او زربې په لویدیزه ټولنه کې دیوې ځانګړې هارمونی او هم غیرۍ په ځیره کې ځان دتخنیکي اومتمدنې ټولنې په زړه کې راوځلاوه. دغه هارموني اوراځلونه په لویدیزوادبیاتوکې یوه لوړتیا وه او یو نوښت و چې په دغه ټولنه کې ددغې ټولنې بې برخې کړل شوی انسان له خپلوبرلاسو ټولنیزوقوانینواو ژمنوڅخه په لوړه کچه او اوچته ځیره کې ولید، داسې چې په خورا اوچتیا سره یې ځان له نړیوال ادب اوهنرسره مل کړ. هنرمندانو او ادیبانوهم دځمکې پرمخ له دغه ټکی سره ترهرڅه دمخه په یوې خواخوږۍ اوعاطفې سره چلند وکړ، دوی په عین وخت کې نړیوالو ته داټکی څه په خپله خوله او څه هم په خپله دامریکایی بشرپالوسپینوپر خولو په ډاګه کړه چې دسپینوله خوا پر آراستوګنوخلکوباندې ځومره درانه تیري او درنې نارواوې شوې دي. دوی په دغه اړه هغه ټولې نارواوې، بې عدالتې چې دواکمنو سپینوله خوا پردغو اصلي اوسیدونکو باندې په امریکا او نوره نړۍ کې شوې وې په ډاګه او په ځنګ کې داهم ورسره په ګوته کړه چې دهغوی فرهنګ او په ټولیزه توګه ددوی انساني هویت په څه ډول له بې هویتۍ او ورکې سره مخامخ کړ او خپل هغه یې دهغه ځای ناستی کړ.دغو ټولورښتیاوو اوحقایقو په دغو ادبیاتوکې په خورا چټکتیا سره انعکاس وموند. کاناډایي نومیالی هنرمند، لیکوال، شاعر او سینمایی لوبغاړی چیف دان جورج ( ۱۸۹۹-۱۹۶۳) له اوږدې مودې را په دیخوا د آراستوګني غورځنګ پیاوړی غړی او مبارزو، هغه د کاناډایی آراستوګني غورځنګ په پیاوړتیا کې لویه ادبي ونډه واخیسته اوهنري ایجادیات یې په دغه برخه کې په کمی اوکیفي لحاظ ډیرمهم ارزول شوي دي، چیف دان جورج دغه مبارزه په ډیره مثبته توګه دخپلو آراستوګنوپرګنودحقونو دغږ داوچتیا په موخه لاربشونه کړه، دهغه لویه ځانګړتیا داوه چې ده د یرغلګرو سپینوپرهغو بریاوو باندې چې دعصردتمدن ستنې پرې ولاړې وې په هیڅ ونه شمیرلې، دهغولپاره یې خپله غیږه پرانیسته اودهغو له منلویې ځان پریوه خوا نه کړ، خو په ځنګ کې یې داخبره هم کړې ، چې ګواکې متمدن سپینان هم باید هغه ویاړونه له ادلون او بدلون سره مخامخ نه کړي، هغه چې د دوی(متمدنو) لپاره د پوهیدنې اودرک وړ نه وي، دده دمبارزې په مانا او تکلارې په رمز باندې دپوهیدو په خاطر دهغه دیوه شعرژباړه دلته را اخلو چې وایي:
« موږ ډیرڅه ستا له دود او کلچره واخیستل،
هیله من چې تاسي به هم یوڅه زمو ږ له هغه واخلی،
ځکه په هغه کې هم ښکلې اوښه شیان شته.
کیدای شي اوس هم هغه وخت راغلی وي،
خو موږ ډاریږو چې کوم څه تاسي اخلئ،
هغه به له لاسه ورکړئ...
زه باید هغه وسایل چې هغه د سپین وګړي برياده دځان کړم،
دهغوی زده کړه، دهغو مهارتونه او دهغوی ټولنه.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

که ته له ځلوربولو سره ورغيږي،
دوی به هم له تاسي سره خبرې وکړي
اوتاسي به يوبل وپيژنی،
که تاسو له هغوی سره خبرې ونه کړئ، هغوی به ونه پيژني،
کله که تاسي هغه ونه پيژنی،
نوتاسي به ډاريږی،
يوڅوک چي ډاريږي،
هغه تل بربادي رامنځ کوي»

دويمه بيلګه :
او، لويی اروا،
دچا چي غږيي دبادونوپه زوږ کي اورم،
زه، ستاد ډيرو ماشومانو څخه يو،
ستا پياوړتيا او پوهې ته اړيم.
ما پياوړی کړه، خو نه چي،
پرخپل ورور لوی وګڼل شم،
څو زه په دي وتوانيږم چي زه مي له لوی دښمن سره وجنګيږم :
(له خپل ځان سره )

--------------------------------------------------------------------

چيف دان جورج نوميالی او بی ساری لوبغاړی او د بريټش کولمبيا د تسليل- وتوت قبيلی مشر، هغه په (ګيسوانوت سلاهوت ) کي د ١٨٩٩کال د جولای په (٢٤) دشمالي ونکوور په سيمه کي زيږيدلی دی ، اود ١٩٨١ کال دسپتمبرپه ٢٣ دکاناډا په ونکوور کي مړشوی دی. دی د کاناډا آراستوګنی ټولني له منځه را پورته شو، بنه ليکوال، شاعر او دسينما نوميالی لوبغاړی شو، له ده څخه يو شمير آثار هم پاتی دي چي مهم او دپاملرني وړيی (زما دزړه الوتنک )، ( زما د روح الوتنک ) اونور دي.

يوه خبره چي پرهغه باندي ټول پوهان باوري دي ، داده چي آراستوګنی ادبيات، په تيره هغه چي په لويديزاوختيزکي ديوه بهيرپه توګه د پوښتني اوګرويږني وړشول، دهغو بنسټ د ويني (شفاهی ) ادب پرستنو باندي دلوړتيا او اوچتيا هسک ته ختلی دی، همداده چي دغه ادبي بهير په خپل ذات کي له اسطورو ، کيسو او انځورونو څخه ډک بهيردی او دهغو له لاري ځان له طبعيت اوانسان سره په هروخت او هرډول شرايطوکي ترلی شي، دهمدغي ځانګړني له مخي څرګنده ده چي دغه ادبيات دنسلونواو ټولنو د تاريخي ، فرهنګی اوهنري ميراث د ليږد دنده له يوه پښت څخه بل ته په خپله ټوله سپيڅلتيا او هنري وړتيا سره ليږدوي. امريکا يی نيتيوو ليکوالو په دغه برخه کي ډيرحساس ګامونه پورته کړي اوهغه ربښتياوي چي هغه ددغوآراستوګنو خلکو د ژوند او تاريخ يوه برخه جوړوي هم دوی دادبياتو په بيلابيلو ژانرواوهنري ډولونو کي را ونغښتي ، په دغو بيلابيلوموضوعاتوکي يوه هم دښکيلاکي ښکاو خبره وه، آر استوګنو ولسونو له خپلي خاوري، له خپل ژوند او له خپل چاپيريال سره مينه درلوده اوچي کله دهغو برخليک د پرديو له ښکاو سره مخامخ شوی ، دوی مقاومت کړی، اوچي کله يي مقاومت هم په ماتي باندي پای ته رسيدلی په هغه ترڅ کي دوی ژړلي او دوی د خپلو دردونو دانعکاس لپاره دخپل ادب اوهنر چي هغه هم زياتره شفاهي و پناه وړی ده اوهغه واقعيتونوکي په شعرونو اوکيسو ويلي دي لکه:
اصل انځور خو داو،
چي دوی پرموږه باندي،
په ( اس تی جان) کي بريمن شول واړه،
لاهم موږ آرام وو، او ديرغوښنه مو آرامه خوړه،
دی يو به کار ته تلو،
ددي پرځای چي موږ (پارو ) ته ولاړشو،
د دوی له لاسه بيا (نيرو ) ته،
موږه ټول ورسيدو.

موږ به د دوی له لاسه،


افغان جرمن آنلاين په دريښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په ځار ځار چغو وکړو،
ځکه دوی مور ته،
د ډوډۍ پرځای بيا ډبرې را کړي.

او تاسي دوی ته بيا خپل ژوند ورکوئ،
څه چي د هغه ورکړه آسانه نه ده.
خوتا سي به بيا غلاما نو غوندې،
د دوی په وړاندې سر ونه خوځوئ،
خو ستا خاوره به،
يوازي ستاسي سپيڅلتيا وي او بس !
( J.M. Bumsted
The people of Canada 1992 p 278)

د آراستوګني ادب دا ډول بيلګي له هم هغه مهال چي اروپايانود امريکا دوچي په لور ورمخه کړه، ددغه ادب په حماسي او مقاومتي اړخ کي ديوې مهمي موضوع په توګه ځا ی نيولی چي يوشميرپوهان بيا هغه دکلتورونو د دټکر لامل او پايله هم نومويې، دوی د آراستوګني ادب د پيژندګلوی په ترڅ کي نوموړي ټکي ته په ژوره توګه ګوته نيسي او وايې چي دهغه لړۍ تراوسه هم ددغو دووکلتورونو ، چاپيريالونواو تضادونو په برخه کي روانه ده:

“ The Cultural contact between European and native Canadian was true Tragedy in the ultimate meaning of the term , for reconciliation of the two cultures was quite impossible, and the failure of reconciliation echoes still today.” ( ibid p 25)
« دآراستوګنوکاناډايانواو اروپايانو ترمنځ دکلتورخبره ددغه بهيرپه پريکړوني مانا يوه رښتيانی غميزه وه، ددواړو ترميان پخولاينه هم ناشوني وه، همداده چي د بيا پخولايني انګازي ترننه پورته دي »

کيدای شي څيړونکي په دغه اړه بيلابيل نظريات ولري ،خوزه په دغه اړه په ډاډسره ويلای شم چي په لويديزکي د آر استوګنوټولنو اوسنی ژوند تراوسه هم ديوه اوږده ستم او جبرله منګولوڅخه نه دی را وتلی، په ټوله امريکا، شما لی ، منځنۍ او ان په جنوبي کي د آراستوګنو خلکو ژوند اوس هم يوه تراژيدي ده، دغه مظلومي ټولني تراوسه له هرڅه لرې پاتي شوې او يا پاتي کړل شوي ټولني او خلک دي، دوی همدا اوس د متمدنو خلکو او ټولنو په منځ کي ځانونه دبشري بدمرغی له ډيرو بدو بيلګو څخه شميري ، دوی تراوسه هم د ژوند له عادي آسانتياوو څخه بې برخي دي، دوی ته په خپله خاوره کي هرڅه خيراتي دي ... په داسي حال کي چي دوی له خپلې خاورې سره مينه لري اوترهغوی چي پردغه خاوره باندې واکمنی کوي اواوس يې د دوی دپلرونوخاوره دخپل پلاراو نيکه پرملکيت باندې اړولې ده دوی ډير ټيريړي او درديري ځکه نو کاناډايي شاعر ته يوځل بيا ورمخه کوو چي دخپل پلار غړيه څه ډول ترخپلوراتلونکوپوری په رسوي او څه هيله ترې لري :
« زما زويه، زما تن د مځکي مور په لور ورګرزي او زما روح به زر د لوی چيف له روح سره ميلا و شي. کله چي زه ولاړم، دخپل هيواد په اړه دي سوچ وکړه، ته ددغو خلکو مشر يې، ددوی سترګي تا ته دي چي لارښونه يې کړې، په ياد دي اوسه چي ستا پلار کله هم خپل هيواد نه دي پلورلي ته بايد خپل غوږونه پټ ونيسي ، کله چي ته دخپل کور ديلورلولاسليک ته وربلل کيږې، په يوڅو نورو کالوکي به ستا شاخوا په سپينووګړو باندې ډکه وي ، دوی ستا دغي خاوري ته سترګي نيولي دي.
زما زويه ! زما و صيت کله هم هير نه کړې ، دغه هيواد ستا دپلار تن په خپله غيږه کي نيولی، دپلار او مور هډوکي دي کله ونه پلورې.»

آراستوګنو ليکوالو او شاعرانو او دهغوی پلويانوکه ترهرڅه دمخه له يوې خوا په خپل وخت کي يوې داسي اوږدې غميزې ته دپای ټکی کيښود له بلې خوا يې هغه انساني ارزښتونه چي انسان له طبعيت او کايناتي سستم سره په هم غاړۍ کي ايجادکړي وو، له هغه نوښتګرانسان سره چي دهغو ايجادګرو له بربادی او ورکي وژغورل ، خو په عين حال همدغه انسان له هم هغه چاپيريال سره چي دده په استوګنه اوپالنه کي يې ونډه د يادوني وړوه دبې توپيری په ښکيل ورننوت ،دتخنيکي او مادي وړتياوو په سيوري کي يې ځان دومره بايلود چي ديوشميرپه وينا يې ان خپل فکري او معنوي تمايلات ګردسره له ياده وايستل. او ان چي په ځينو وختو کي يې دومره په بې توپيری سره چلند ورسره وکړ چي پايله به يې له خندا اوتمسخره پرته بل څه نه وه ،په داسي حال کي چي دايو افراط و ، په هره ټولنه کي دهغي ټولني لومړني شعوري انسان خپله لومړنی زده کړه اودخپل ژوند رمز اوراز له طبعيت او کايناتي سستم څخه زده کړې دی، مينه، لورينه، وده، خوشالی، خواشيني، قهر، اومهرباني، وفا، جفا، کبر او غرور، انسانيت اوحيوانيت، سرکښي، زغم


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

اونورتول مفاهيم هغه څه دي چې انسان دلومړی ځل لپاره په طبيعت کې ليدلي او بيا يې له هغه څخه کاپي کړي دي. داچې دهرې ټولنې ادبيات اوهنر، دهرې ټولنې هنري ارزښتونه له همدغه ټکي سره په تړاوکې دي نوله همدغه رمز او رازسره يې وده کړې اود پرمختګ وروستي پړاو ته رسيدلي دي، په اوس مهال کې چې انسان دتخنيکی پرمختګ پر وړتيا وو باندې دغرور تروروستيو پوړيو پورې ورسيد څه بايد ووايو چې هغه اوس بايدڅه ډول خوبونه ووينې؟ نوره بربادي اوکه په تيرو باندې پښيماني؟ اتوم خودنړې ډيرهيوادونه لري، خو راځي په ربښتيني توګه ووايو چې دوی اتوم دانسان لپاره دخدمت اوکه دهغه دبربادی په نيت جوړاو په پښو ودراوه؟ څرګنده ده چې د بربادې اوخپل هم نوعه سره ددښمنې په نيت يې رامنځ ته کړ، وګورئ همدا اوس( ٢٠١١) په امريکا کې اقتصادي بحران ددی لامل شوی چې نور نو عادي خلک په خپل ژوند کې له سختواقتصادي ستونزو سره مخامخ شي، اقتصادی کسر، ۴۹ مليونه خلک بيکاره او بی روزګاره داټول څه هلته روان دي، خو له دې سره سره دهغه هيواد وسلې جوړونکی کمپنې ديوې شيبې لپاره هم نه پرچاويږي اونه يې په بودجه کې کمی رامنځ ته کيږي، همداسې په هند اوپاکستان کې هرکال په مليونو خلک له لوږې اوبې وزلۍ مري، خو حکومتونه يې هرڅه چې لري او يايې دخلکو له هډوکودماليوپه نامه ترلاسه کوي، هغه په وسلو او پوځيانو باندې خرڅوي، شمالی کوريا اوايران هم داسې درواخلی چې عادي خلک يې څومره ستونزې لري ، خو له بده مرغه چې دوی له انساني منابعو څخه تراوسه هم دانسان دنيمکرغۍ اوهوسايۍ په برخه کې کارنه اخلي ... او انسان په دغه ترڅ کې تراوسه هم نه راويښيږي، اوتراوسه هم خپله وړتيا دتورې اوټوپک ترسيوري لاندې وينې، په داسې چې دادڅوکسانودځان غوښتنې اوځاني ګټوخبره ده چې انسانيت کله هم له هغوی سره ددوی دنيتونو له امله يوه خوله اويوغړ نه و اونه به وي.

همداده چې دبشريت دپراخې غميزې ترهرڅه دمخه په ډيره ښه اوانساني توګه د هنري پديدو په ترڅ کې وشو، د واک او قدرت خاوندانو چې د نړۍ د فتحې خوبونه وينې، هغوی پر اتوم نازيږي خو دادب او هنر پيغامبران بيا برعکس هره شيبه ددغې ورستۍ سوبې پايله په عاطفی او معنوي بنياد پورې تړي، هغه چې دوی ته دبشريت دتلپاتې والي په پراخ بهيرکې ژوندی او تلپاتې ښکاري. دلته يوازې يوه بيلګه يې ديوه انساني حقيقت په توګه ستاسې په وړاندې ږدم اوهغه داچې داچې همدا اوس امريکا خونړۍ واکمنان او ددغه هيواد د وسلوجوړولو کمپنۍ اجازه نه ورکوي چې د چاپيريال دککړتيا مخنيوی وکړي او انسانی ديوې شيبې لپاره په کې آرامه ساه وباسي، خويو آراستوګنی شاعر دهغه برعکس نه يوازې داچې دځان اوهم نوع پوښتنه ورسره ده دخپل چاپيريال په وړتيا او سپيڅلتيا باندې د زړه له کومي مين دی او زړه يې پرهغه ناورين باندې چې طبيعت او دهغه مخلوق ورسره مخا مخ کيږي نليږي.

١

وړه ماشومه!
دمورتي دې واړه له شيدو ډک دي،
ورشه هغې ته او ترې ويې روه،
ورشه هغې ته اوترې ويې څښنه ښه،
وخيږه دغره سرته
دغره له سره له روغتياسره،
د دژوند پر ستونزو لاسبری ومومه.

٢

دا د وړې چنچنې مور وينه ده،
وچه يې کاندئ دغه،
دغه،هغه وينه ده چې د يوې ونې له څانګې راوتی
وچه يې کاندئ دغه ...

٣

په کټ کې چې را کينم،
دخړسهارله سندرې سره مې،
دغه په پام کې وي،
چې دتيارې په لوري پام ونه کړم
زه به مې خپل پام،
دورځې دورځې په لور اړومه.

٤

ته، لکه ساحل کې را چورله مرغۍ
ته، لکه وحشي بته
دپوټکی مخ دګرد،
په زخمونوډک شوی،


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په چاودو باندی ډک دی،
ورشه داتول پټی کړه.

------------------------------------------------------------------------------

(۳)

## دلویدیزآراستوګني ادبي غورځنګ اوختیزي ټولنې

یوه خبره، یوه نړیواله ربښتیا، هغه دا چي دنړی لویه دایره اوس دهرې ورځې په تیریدو سره په بې ساري ډول دنغري غاړه کیږي، هر څه چي ددغي دایرې په یوه برخه کې رامنځ ته کیږي، هغه دسترګو په رپ کې ترهغې بلې خوا پورې ځان رسوي، په داسې حال کې چي دابهیرپنځوس، شپیته کاله مخکې داسې نه و، په دې مانا کوم څه چي په لویدیزوادبیاتو کې روان وو مونږ پر هغو زر نه خبریدو اونه موددي توان درلود چي باید له هغو څخه په بیړنی توګه لکه نن خبرشو، دغي موضوع بیلابیل عوامل درلودل، سیاسي، فرهنګي، تعلیمي، اقتصادي اونورچي دهغوله امله هم مونږ ونه توانیدو چي دهغوی واورو یا خپل غبر هغو ی ته ورسوو، یایي دهغو پرضد کړو او یاد هغو ي په تایید ، خویوڅه چي په نړیواله کچه روښانه وو هغه دادبي او هنري جریانونو خبره وه ، هغه ادبي اوکلتوري حرکتونه چي په لویدیزکي روان ول، هغه ټول له یوه لنډ واټن وروسته ترختیزپورې هم راورسیدل اوهم یې مثبتواړخونو ته په ځینوبرخوکې ترلویدیزهم زیاته او په ښه توګه وده ورکړه شوه. چي یوه هم په کې د آراستوګني شعوراوادب مساله وه چي په ختیزکې یې هم لکه د لویدیزپه شان له یوې خوا هرکلی وشو اوله بلې خوا یې دختیز دآراستوګنو پرګنو په استازیتوب د یوشمیرنومیالیو لیکوالواوشعوري کسانو پاملرنه ډیره زرځانته ورواړوله.

هندوستان چي یو ښکیلاک ځپلي هیواد و په دغه برخه کې یې تریوه حده ځان دانګریزي ښکیلاک له بدګړو سره سره دمخکښې پرپوله ودراوه،په دې مانا چي، لاهم ترښکیلاک لاندې و چي دښکیلاکي ځواک دتوطیې په پایله کې یې ځان دفارسي ژبې او فرهنګ اودهغه دمادي او معنوي نفوذ له دایرې د دوی پرخپله وینا بچ کړ. انګریزانود دوی ترغوږو داخبره ورګونګوسه کړه چي فارسی فرهنګ او ژبه ګواکي پردی ژبه ده باید چي ځای یې هندوستاني ژبه ونیسی ، همدغه خبره ددې لامل شوه چي هندیانود انګریزانو په لمسه دفارسي فرهنګ او ژبې د تسلط لمنه ورټوله کړه ،دوی هندوستاني ژبه پلمه کړه ، خو پرځای دخپل ښکیلاک خبره لومړني کړه او خپل ژبه یې انګریزي یې د فارسي ژبې پردرنو او ړو باندې له نژدې اتو سوو کلونو وروسته کینوله ، مانا داچي ترخپلواکی پورې دهندوستاني ژبو نه دین و او نه هم سادین. له خپلواکي(۱۹۴۷) راپه دیخوا انګریزانو خوښه کړې هندوستاني ژبه هم په دووبرخو (هندي او اردو) وویشل شوه، ددواړو لپاره په هند او پاکستان کې د ودې نسبي لارپرانیستل شوه، په هندکې دهندي ژبې دود له دیوناګري لیک سره وتړل شو او په پاکستان کې اردو له عربي لیک سره، چي په دواړو هیوادوکي تراوسه درسمي او ملي ژبو په توګه دخلکو په واک کې دي، سره له دې چي ددغو دواړو هیوادو دولتی اداره اوس هم په انګریزي ژبه باندې سمباله ده خو له دغې ستونزې سره سره په دواړو هیوادو کې دخلکو په کچه د زده کړې اود مطبوعاتو په ډګرکې په ټولیزه توګه هندی او اردو ژبې له نظره لویدلي ژبې نه دي.

خبره داده چي که مونږ یې پرځان باندې بده ونه لګوونوداویلای شو چي هندوستانیانو په ربښتیاهم د خپل فرهنګ او خپلو ژبو لپاره د ساه ایستلو شیبه که په بشپړه توګه نه وه نو په نیماني کچه یې ترلاسه کړه، مانا داچي هندپه دغه برخه کې دیوه شعوري حرکت په لوررومخه کړه اود آراستوګني فرهنګ لپاره یې دغوړیدو لاره برابره شوه. دوی په ډیره سختی سره هغه څه کم اته سوه کلن فرهنګي برلاسي ته چي فارسي ژبې دهند پرټولو مادي او معنوي بنسټونو باندې ایښی و له ښه مرغه او یا له بدمرغه د پای ټکي کیښود. سره له دې چي پرهغه مهال داپوه لویه معنوي غمیزه انګیرل کیده خو وروسته وروسته په ډاګه شوه چي حق حقدارته رسیدلی اود آراستوګنو خلکو د فرهنګي خپلواکۍ په برخه کې یو لوی ګام اوچت شوی دی. ترکي ژبه او فرهنګ دویم آسیایي فرهنګ و چي دعثماني امپراتورۍ په جاه او جلال کې لوټپه شوې او له نظره لویدلي فرهنګ و، ترکان د آسیایی او اروپا د زیاتو برخو فاتحین شول، خوژبه او فرهنګ یې بیاهم فارسي ول ، فارسي ژبې او فرهنګ د دوی د امپراتورۍ په موده کې په لویدیزه آسیا او تریوه حده په اروپاکې وده وکړه.

د شلمي پیړۍ په پیل کې له هغه وروسته چي عثماني امپراتورۍ په هره خوا کې دانګریزانواو دهغو دعربي ګوډاګي ډاکوانوله خوا دیوه ځرګند رکود په لور ورمخه شوه ،له هغه وروسته دترکانو را ورسته نسلونه د خپلو پخوانیوهغودغه تاریخي بې توپیرۍ او خپلي ژبې او فرهنګي نیمګړتیاته په شعوري توګه ځیرشول او دنوې ترکیې له را منځ ته کیدو سره یې دخپل معنوي او مادي ژوند دسمبالتیا په خاطر خپله ترکي ژبه په هراړخیزه توګه دخپلي ملي او رسمي ژبې په توګه دفارسي او عربي ژبو پرځای ومنله چي نن سبا ترکي ژبه په آسیاکي د ددغي وچي د ډیرکي اوسیدونکو د ژبې په توګه چي په ترکیه اوګردودونه (لهجې ) یې په مرکزي آسیاکی ویل کیږي په مادي او معنوي لحاظ د ځانګړې پاملرنې ور ژبه ده.

دریمه ژبه اوفرهنګ چي په آسیاکي لکه د ترکیې په شان دل دل شوي ول هغه پښتواو افغاني فرهنګ او ژبه و ل، پښتنو له فارسه بیا تر بنګله دیشه پورې په اسلامي پیرکي واکمنی او امپراتورۍ جوړې کړی ، خو دوی هم دخپلو پرتمونو په دوره کې نه دخپلې ژبې خیال وساته او نه هم دخپل فرهنګ، په هندوستان کې ترمغلو دمخه او وروسته پښتنو واکمنانو دنورو ژبواوفرهنګ ته په خورا سپیڅلي نیت سره کار وکړاوهغه یې دخپلو واکمنیو رسمي او دولتي ویاړ و بلله، خو

---



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

خپلې هغې (پښتو) ته يې بيايا پام نه و اوکه و، نو هغه بيا د نورو په تيره بيا فارسي اوعربي په اندول په هيڅ شماره شو، سکندرلودي، شيرشاه سوري، غلجی علاوالدين، احمد شاه ابدلي، اميردوست محمد خان اونورټول لوی پښتون آري واکمنان ول، دوی هم ونه شوای کولای چې دخپلې ژبې د دود او پرمختيا په برخه کې څه وکړي، دوی چې هرڅه کړي هغه هم دفارسی ژبي او فرهنګ د ودې او ترقۍ په برخه کې ول . په تيره کله چې د افغانستان پرجنوبي پوله باندې انګريزانو د ديورند په نامه دبيلتانه اره کيښوده، له هغه وروسته دپښتنو پرلويو کلتوری او فرهنګي مرکزونو پيښور، ملتان، شال او ديره جاتو باندې د انګريزي او پنجابی ژبې او فرهنګ سيوری ولويد چې تراوسه پورې لاهم دهغې غميزې لړۍ روانه ده.

خولکه څنګه چې يادونه وشوه ، دشلمې پيړۍ له پيله را پديخوا چې افغانستان له انګريز ښکيلاک څخه ځان خپلواک کړ، له هم هغه مهاله ترننه پښتنو روڼ اندو اوتريوه حده واکمنانانو لکه امير حبيب الله خان او دهغه نوميالی زوی اعليحضرت امان الله خان، غازي نادرشاه، اعليحضرت محمد ظاهرشاه او ولسمشر محمد داود خان په دوروکې دپراخ افغاني فرهنګ په لويه دايره کې د پښتوژبي او پښتنی (افغاني ) فرهنګ د ودي لپاره ځانګړې پرګرامونه د يوې ملي اړتيا او دټولنې د اکثريت د معنوي او رواني ودې په موخه داسې چې دنورو دهغو په بيه تمام نه شول ترلاس لاندې ونيول.

ددغو واکمنانانو په څنګ کې ديوزيات شميرروڼ اندوپښتنو آراستوګنو ليکوالواو فرهنګيانو هلې ځلې هغه څه وو چې دوی دخپل هيواد دفرهنګي ودې په لور دهغوپه رڼا کې ګامونه پورته کړل، دغه ټکي ته هغه مهال لازياته اړتيا رامنځ ته شوه چې په آسيا کې دملي توب اوآسيايي نشنلزم شمال په لګيدو شو، په دغه ترڅ کې افغان روڼ اندي په خپل هيواد کې ديوې بډايي ژبې اولرغوني فرهنګ وروسته پاتې والي اوله پامه لويدو ته ځيرشول اوددغه هيواد د اکثريت او آر استوګنې ولس دفرهنګ او معنوي ميراث په اړه نيمګړتياو بې توپيرۍ ته ځيرشول ځکه يې دهغې د بيا را ژوندي کولولپاره پرله پسې هلې ځلې وکړې . چې لوی لامل يې په چم ګاونډ هيوادولکه ايران ، ترکيې ، هند اونورو کی ديوې فرهنګي ويښتيا هغه چټک حرکت و چې نورنوزموږ د هويت په ورکي باندې پای ته رسيده ، فارس د ايران او آرين توکم پرسيمه او فرهنګ باندې دخپلې لوړتيا غوښتنې په ترڅ کې ځان يوازنی وارث وباله (*) اودغه بهيريې په دومره غرور سره وشاربه چې هرڅه ايرانی شول اوهغه هم په داسې يوه هيوادکې چې داسلامي دورې په حساسو اومهمو دورو لکه غزنوي ، سلجوقی ، غوري، هوتکي، دراني کې د خراسان او افغانستان يوبډای ايالت و. په دغه ترڅ کې افغان روڼ اندو يو شعوري ګام اوچت کړاوهغه داچې دوی هم دخپل فرهنګ دساتنې او پالنې کارته ملاوتړله او ځانته يې دځانګړي افغاني فرهنګ پالنې تګلاره او اصول ديوې ملي اړتيا او دولتي پاليسۍ په توګه ترلاس لاندې ونيول اوهغه ته يې ديوه شعوري حرکت بڼه ورکړه.

علامه محمود طرزي اودهغه اخبار سراج الاخبارافغانيه په دغه برخه کې ترهرڅا مخکښ شول او له هغه راپديخوا دغه بهير د نژدې پنځوسو کالو په ترڅ کې په ځانګړې ډول وده وکړه په دغه برخه کې د زياترو افغان ليکوالو او فرهنګيانو له هغې ډلې دعلامه رشاد او پنځوستورو مادي او معنوي قربانۍ نه هيردونکې دي.



له کينې خوا: علامه رشاد، علامه حبيبی او نوميالی بينوا

------------------------------------------------------------------------

(*) پښتانه وايي چې کوږ بار تر منزله نه رسيږي، پرهغه مهال چې نړۍ د فاشيزم کليمه يوځل هغه هم له نا چارۍ ويله، نوفارسيانو دوه ځله له چا پلوسۍ وويله، هغه هم په دي خاطر چې هټلرد کره آرين توکم پوښتنه رامنځ ته کړه، فارسي واکمنان په دغه برخه کې په داسې حال کې چې مصدق يی د امريکا په زور وځاپه دتيلو په پانګه دفرهنګي لوړتيا غوښتنې پرنيلی باندې سپاره شول اودهرڅه چې دهغو لپاره يې هيڅ ډول علمي توجيه نه درلوده دايرانی کولوپه لټه کې شول، همداده چې په دې نږدې وختوکې دتوکم پوهنيزو څيړنودفارسيانو ايرانی يا آرين توب له علمي ګواښ سره مخامخ کړی، نوې څيړنې وايی چې داوسني ايران زياتی برخه آريايان نه دي، مانا داچې، څوک چې آريايان نه وي دهغوی د آريايی او ايراني توب دعوه هم غلطه او جعلي وه او ان چې د فارس اوسنی نوم (ايران) هم يوه څرګنده تاريخی غلا ده چې له آراستوګنو آريايانو ( افغانانو، تاجکانو، هنديانو اونورو) څخه ترسره شوې ده. زه دعلمي څيړنو په حقانيت کې شک نه ګورم خو پردي شکمن يم چې يوشميرايرانيان چې د لويديزښکيلاک د برلاسی او غرضونو د دوام لپاره کارکوي



افغان جرمن آنلاين په دربښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

، کیدای شي په دغه برخه کې رغنده نیت ونه لري. اوکه دا خبره نه وي، دغه ځیرنه د ربښتینو آر استوګنو ولسونو لپاره دقدراو ستاینې وړده.

(۴)

علامه رشاد د افغان آراستوګني مخکښ لیکوال په توګه،

لکه چې مخکې اشاره وشوه پښتوژبه یوه له هغو آسیایي ژبو څخه ده چې دتاریخی ژبپوهنې دڅیړنو له پلوه یې هرڅه په خورا دقیقه توګه دپوهې اوڅیړنو په تول برابر او
له خپلو سیالوژبو سره په هره برخه کې سیالي کره ژبه ده. له تاریخي اوفرهنګي پلوه هم په ډیرو برخوکې بډایه ژبه ده، په هروخت کې دبیلابیلوعلومو په برخه کې هرڅه په خپله لمنه کې رانغښتي دي خوداچې خواخوږي او لوستونکي یې نه درلودل، اویا یې ویونکو پرنورو ژبو سرونه ښندلي، داهغه تراژیک بحث دی چې نسلونو، نسلونو مو پرې ژړلي او لابه هم ژاړي، ځکه چې پښتنو دتاریخ په اوږدو کې یوازې دخپلولنډ پارو ګټو په لامل فارسي ،اردو -انګریزی ته دمور او پښتو ته د میرې په سترګو کتلي دي.
خو اوس دپښتون ځوان کاله له برکته پښتو تریوه حده ددې توان موندلی چې دعصر تخنیکی اوعلمی وړتیا وو او نوښتونو ته نوره هم خپله پراخه غیږه پرانیزي اوهغه څه چې دعلمي نړۍ هیله اوغوښتنه ده په دغه ختیزه ژوندۍ لرغونې ژبه کې هم خپل ځای ومومي.
خو له بده مرغه چې دغه ژبه له پورتنیو هیلو سره سره بیا هم په یوه برخه کې دداسې چا اوداسې هیواد په پڅه رسیدلې چې تل دقدرت، جنګ، بري اوماتوپه درنومنګولو کې لیوني لیوال پاتې شوي چې تراوسه هم په دغه نشه کې ترستونی ډوب ، له ځانه ناخبره ، په سترګو ټپ ،ناهیلي او په مردارډندکې لویدلی مرغه په شان په ماتو ځانګونو بې له پوهې اوتکنالوژۍ ترپکي وهي .هو، همدغه ژبه اوس دداسې کسانو(افغانانو) ژبه ده چې وطن لري ، غریب هم نه دي خو بیاهم د دغې ژبې دخدمت په ډګرکې هیڅ نه کوي ، یوشمیر یې دځان دبډایې په معامله کې کاروي پیسې پرې ګټي خو چې پرهغې دمصرف خبره راشي بیابه ځان داسې ناګاره واچوي چې ګواکې دا د دوی دمور ژبه نه ده اوچې څومره ناځواني یې له وسه کیږي له دغې ژبې اودغې له فرهنګي هستیوسره یې کوي، یومهال می اروابناد ډاکترنجیب الله ته په یوه ناسته کې مخامخ وویل چې تا په ملګرو ملتوکې ولې پرپښتو وینا ونه کړه، هیڅوک پوه نه شول چې ته ایران مشروې که د افغانستان؟ خو پرته له دې چې نورڅه ووایي ، هغه اروابناد په ډیره سره سینه خپله دغه نیمګړتیا ومنله ، خو زما د تسل لپاره یې د اژمنه وکړه چې: « زه وعده درکوم چې په دې نژدې وختوکې د نا پیلیو هیواد وغونډه ده که مې هلته خپله وینا پر پښتو ونه کړه، بیا حق لرې را ته وواې چې نجیبه پښتون نه یې » او هغه بیا خپله دا ژمنه پوره کړه، خو اوس یوڅوک هم نشته چې کرزی صاحب تر څپنه ونیسي او ورته ووایي چې په دغو نړیوالو ټولنوکې د افغانستان دولسمشر په توګه پرپښتو باندې هم کله کله خوله خلاصوه . دا زموږ پخوانی بدمرغي ده هغوی چې دوطن واک ورسره دي له پښتو سره د ګناهګارې میرې په شان سلوک کوي.
آیا یوازې هغه دغرورخاوندان لکه علامه رشاد اودهغه په شان یوڅوببرسري چې څوک په شام دي او څوک په یونان ددې ژبې مسوول دي؟ ددغې ژبې دم ګړېداسې حال دی چې په پوهنتونو کې دتدریس لپاره نه پرمختللې شونتیاوې لري اونه هم وړ کادرونه، له هغې ورځې چې علامه رشاد ددغې ژبې له تدریسه لاس په سرکړ شو له هم هغې ورځې ترننه بیا دغې ژبې دغوړیدو څه په سترګو ونه لیدل ، نومیالي استادان لکه ( استاد زیار او نورو ) یې دیوه قاتل او داړه مار قوماندان په کچه هم ارزښت نه لري چې دکابل واکمن یې وروغواړي اوهلته په یوه پوهنتون کې کارځینې واخلي!



دادهم هغې ژبې برخلیک دی چې یومهال به دلته ددغې ژبې پرنومیالیو باندې نه یوازې موږ ویاړکاوه بلکه نړیوال یې هم په خپلونه سترې کیدونکو هڅو باندې ګوته پرغاښ کړې وو. نن دهغه نومیالی رشاد، حبیبی، رشتین، بینوا، تره‌ی، الهام، روهي اوپه سلګونو نورو ستورو پرژبې او فرهنګی هستیو باندې داسې بده ورځ راغلې چې هرموسمي باد او باران راوړي خلې او خاشې یې دودې او پرمختګ مخې ته ډکې جوروي او نه غواړي چې په دې سیمه کې ددغه هیواد دآر استوګني قوم د زرګونو کلونو میراث خپل وزونه وغوړوي. دلته داسې یوستم روان دی چې په لیدو یې سرې دې ته ناچاریږي چې ووایی:



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دریغه، دریغه چې یا زه نه وای اویا زه ...
هغوي چي پيړۍ پيړۍ يې فرهنګی اوژبنی ستم زموږ دفرهنګ اوژبی ستړه راوایسته ، هغوی چي بايد ځان په اخلاقی او ټولنیزلحاظ زموږ په وړاندې ، زموږ دژبې اوفرهنګ په وړاندې ګنهکاروبولی، هغوی چې بايد دخپل دغه فرهنګی تيري له امله ددغه هیواد داکثریت په وړاندی په ملی کچه ښښنه وغواړي هغوی اوس هم دومره ښږکيږي چې دمصلحت اونا منلو سیاستوالو دسازشونوله امله زموږ پرخولو باندې لاسونه نيسي او دخپل فرهنګی حق ترلاسه کولو ته مو نه پرېږدي. په داسې حال کې چې نن نړۍ نوره دی ته سترګی په لاره نه شي پاتی کیدای، هسی چي په ټوله نړۍ کې آراستوګني خلک دا حق لري چي دخپل فرهنګ اوخپلې ژبي لپاره اوخپل فرهنګی هويت لپاره مبارزه وکړي ، په دغه برخه کې پرته له دې چې دنورو حقونه ترپښتو لاندې شي بايدخپل غږ په خپل ستوني کي ونه ساتو، لکه چي علامه رشاداويارانو يي ونه ساته اودخپلي پوهي په زوريی دغه حرکت ته دمرګ ترپولی پورې شعوري اومنظم کاروکړ.

علامه رشاد موږ په دغه برخه کې د پيړيو له هغه اوږده اودرانه خوبه راويښ کړو چي تردغه دمه يې زموږ د فرهنګی او تاريخي هويت دمرګي او ورکې پيغام را ته غږاوه، موږ ته زموږ داندو ژوند پاڼه بل چا په دومره جزياتو زموږ په وړاندې نه راسپړلې اونه يې راته تشريح کړی و ه لکه چې ده په دغه رمز باندې بدمرغه پښتون چې بې فرهنګو اوپردي فرهنګ پالو بدنامو او افغان فرهنګ ضدو ځواکونو دبی فرهنګوآراستوګنو نوم ورکړی پوه کړ.

په لاندې ډول:
لکه چې مخکې مو اشاره وکړه موږ ډيرې خبرې او س هم په اشاروکې کوو ، اوس هم لکه هغه ناروغه چي دمرګ په پوله ولاړوي، ددې لپاره چې دخپلو خپلوانو مورال يي نه وي کمزوري کړي دمرګ پرپوله همدا نارې وهي چي زه ناروغه نه يم، زه جوړيږم ... اوکه نورنه وي داخو خامخاوايی چي ترپرون نن ښه يم ... پښتانه هرکس اوناکس په دي تورنوي چي ګواکي دوی تل په سيمه کې يو حاکم ځواک و، دوی ډيرڅه کړي اوبايد په دغه برخه کې يې هم دګيلې ځای نه وای پريښی، خودوی برعکس دخپل حکومت پرمهال نه ځان ته څه کړي اونه هم نورو ته ، دايوه بې مانا خبره ده چې اوس هم يوشمير خپل او پردي په خورا بې رحمۍ سره شخوند وربانديې وهي ، دلته يوه پرما تيره کيسه له موضوع سره اړونده راليکم ، په هندوستان کې‌مې له يودولتي مسوول سره چې دکرزي د سترګوتورو اوږدې خبرې درلودې دا دولتي مسوول چې دپښتنو ضد بی سروپايله خبرې دچا خبره فطرتي ليوالتيا وه په لومړۍ کتنه کې په خورا جديت سره داپوښتنه وکړه چي : « په هندوستان کې پښتانه تراوسه پورې ديوه مهذب قوم ځای اودريځ لري، هم يې فرهنګی اوهم يې تاريخي شته والی دوياړبلل کيدای شي خودافغانستان پښتانه هغه که واکمنان وو او که عادي اوسيدونکې له دغو ځانګړو څخه بي برخې دي ... ددې لامل به څه وي ؟ ماورته وخندل اوربښتيا مي ورته وويل داسې چي: ...صاحبه دهندوستان پښتانه په ربښتيا هم دافغانستان له هغو سره په نوموړو برخوکې توپيرلري اودهغه لاملونه هم معلوم دي لومړي يی اقتصاد ، دويم واک او دريم فرهنګ دی، دهندوستان پښتنو پياوړی اقتصاد چی د ژوند ستنه يې پرې ولاړه وه درلود، کله چي پرواک شوي ان چي د راکړې ورکړې عادي روپې هم د سرو زرو وې ، واک يی هم درلود په دې چي دوي په آسيا کې دتاريخ په اوږدو کې برخليک جوړونکي قوم و د واک اوځوا ک په اهميت باندې په هراړخيزه توګه پوهيدل، په فرهنګی لحاظ هم دوی په داسې يوه حالت او چاپيريال کې اوسيدل چې هلته بې له يوې پياوړې فرهنګي وړتيا اوپوهې استوګنه ګرانه وه، ځکه نو دوی له دغودريوتوکو اودهغو له وړتيا سره مل شوي وومانا داچې دغه دری توکه يې درلودل اوهغه يی دخپلې واکمنۍ ستنې منلې وې ، ديوه حقيقت په توګه دا منل شوې ده چې پښتون په هند کې هم يو شتمن و ، هم واکمن و او هم په فرهنګی وړتيا سمبال لوی شوی او روزل شوي انسان و، قلم يې هم خپل و او په خپله کاراوه . خو په افغانستان کې پښتون داسمه ده چي تل واکمن و، واک يې لاره، اقتصاد يي نه لاره، او قلم يی هم نورو ته سپارلي و چې هغه ترډيره تاسو(غيرپښتانه) واست او په نمک حرامی سره مو هغه قلم دپښتنوپه وړاندې د فرهنګی اپارتايد په جګړه کې کاراخيستی دی. همداده چي نن تاسو جناب هم واياست چي دغه او هغه پښتون يوشان وده نه ده کړې اويوشان نه وو، له همدې امله دغه لوی توپير ددې لامل شوی چي په افغانستان کې سره له دې چي پښتون هم واکمن و خوکومه دايمي تګلاره چي دوی په هندکې دخپل هويت او خپل شته لپاره کارولی هغه وړتيايې په افغانستان کې ديوه اوږده فرهنګی ستم او يا په نوې نومونه د فرهنګي اپارتايداوده ته د پردي فرهنګ اوژبې د ستم او زبيښاک له امله نه ده ورپه برخه شوې.
له دغې کيسې مو موخه داوه چي پښتون علامه رشاد لومړني څوک و چي دخپل قوم هغو وړتياووته چي هغه نورې دده دخپل قام او رقيبو ځواکونو څخه الونيا پاتې وې ديوه تاريخي ضرورت په توګه، ديوه جريان او يوه انساني رسالت په توګه زموږ او نړۍ په مخ کې کيښودې او موږ ټول يې هغو ته له يوه درانه خوبه وروسته په شعوري توګه ځيرکړو.
هغه په دريو ژبو وليکل او وويل چي په هغوکې دپښتون علم او هنراومعنويات خواره واره وو ، پښتو، دری – فارسي او اردو ځکه چي دده قام همدا اوس په دغو دريو ژبواو دريو قومونوکې ورک دي، دهند او پاکستان دسنداو پنجاب او اتراپرديش پښتانه په اردواو هندی او نوروسيمه ييزو ژبو لکه بنګالي، پنجابی، ګجراتی، مرهټی کې ورک دي، دافغانستان او ايران زياتره ښاري اوسيدونکي په فارسی کې ورډوب شوي، همداسې پښتانه بيا چې ژبه لري، دبی علمۍ


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او بې تفاوتۍ باد او باران په سراخیستي دي. په تهران کې مي ایرانی دوست چې له آره پښتون بارکزی دی په دې نژدې وختو کې راته ولیکل چې: ( لطفاً برایم بگویید که این پنبتو{پ ن ب ت و} چه سان زبان بوده است که نیاکان ما ن با آن صحبت می کردند ...)

زما ددغه دوست احساس ژوندی دی، ځان بیاهم پښتو ن بولي، خو په دی یې بیا سر نه خلاصیږي چې که پښتو پر (ښ) باندې ولیکل شي نودهغه وینګ ده ته ګران دی او (ب ن) ورته ښکاري، داخپله یوه تراژیدي او غمیزه ده چې پرپښتنو باندې د تاریخ په اوږدوکې زغمل شوې او تپل شوې ده، نن په هند کې او پاکستان کې د هندي او اردو ژبومخکښان او سالاران پښتانه دي، په افغانستان کې د دري ژبې نومیالی پښتانه وو او دي. چې لامل یې بیاهم په دغه لاره کې دهغې مبارزي نشته والی و اودی هغه چې علامه رشاد او دهغه غورځنګ د خپل یوه څرګند انساني حق په توګه په خپل عصرکې را پیل کړه او اوس په خپله دپښتنود کمزورۍ له امله په ټپه دریدلې ده.

موږ علامه رشاد له داسې نادراتو سره آشناکړو چې تردغه وخته پورې نه موږ پرې خبروو اونه هم زموږ دوستانو او دښمنانو دواړو له ښه او یا له بده نیته موږ ته دارابښوده چې خبره څه ده؟

موږ ته رشاد لودي پښتانه نومی اثر ولیکه، داسمه ده چې تردغه وخته په هندوستان کې په دغه اړه خورا زیات کارشوی و، خوله بده مرغه چې په افغانستان کې په دغه راز باندې څوک نه ووخبر، موږ رشاد دپښتنوددغو نومیالیو له هغو کارنامو څخه خبرکړو چې هغوی دعلم اوپوهې په برخه کې بشریت ته ترسره کړي وې ، زه علامه رشاد هندوستان ته یوازې په دې لامل وهڅولم چې پښتون برم او دهغه فرهنګي کارنامې په افغانستان کې نه موندلای شي او نه څوک په دغه برخه کې وخت درکوي، هلته ډیرڅه تراوسه هم ناویلي پاتې دي، اودا یو واقعیت و، زه یې مرهون یم، یوځل مې ورته ولیکل چې پښتون میا بهوه په طب کې لکه ابن سینا غوندې لویې کارنامې ترسره کړې دي ... خو دده باورنه کیده ترهغوچې ما ورته ولیکل که ابن سینا په نجوم، طب او ادبیاتو باندې پوهیده ،میا بهوه هم کټ مټ کاروایی درلوده، په عربی، فارسی، پښتو او سانسکریت ټولو ژبو باندې پوهیده اوزما ددغې هڅې یې ستاینه وکړه.

داخبره مې په دې دلته را یاده کړه چې علامه رشاد پښتنو ته دځان پیژندنې شعور ورکړ، موږ تراوسه هم دیوه داسې لوی پښتون په شته والي باندې چې له ابن سینا سره انډول کیدای شي نه یوخبر اوکه خبروای نو لږ ترلږه خو به مود اوسنیو پوهنتونوپه طبي برخو کې یوه څانګه دده نومیالي په نامه سره نومولی ، دطب په برخه کې دده کارونه په خپل وخت کی ترنومیالیو کسانو لکه ابن سینا اونوروکم نه وو، دغه نومیالی پښتون عالم میا بهوه نومیده په دغه اړه غواړم تاسې ته یوڅوټکي په لنډه توګه چې هغه هم دعلامه رشاد له علمي برکت سره تړلي دي په ډاګه کړم:

پښتون میابهوه وفات ( ۹۲۵ هجري ) دفارسی ژبې لیکوال او طبیب او دسکندرلودي په زمانه کې دهغه وزیر له لویو علماوو او فضلاو څخه و، دده په باب دهند په نیمه وچه کې مهم کتابونه لکه، طبقات اکبري، تاریخ فرشته ، تاریخ مسلمانان پاکستان وهند اوپه لسګونو نور هم پټه خوله نه دي پاتې شوی، سره له دې چې دی په بیلابیلوعلومو کې نابغه و خو له طب اوطبابت سره یې ځانګړې لیواتیا اومینه درلوده او په دغه اړه یې ان په هغه وخت کې ویل چې (درمیان همه علوم طب برای انسان مفید است) همداټکی و چې ده په هندی طب لوستنه باندې چې زیاتره آثاریی په سانسکریت کې وو دمطالعی اوڅیړنې کار پیل کړ، او (ایرودیک) طب ته یې چې هندي طب بلل کیده له یوې خوا پاملرنه وکړه اوله بلې خوایې ددغه علم په زده کړه لاس پورې کړ. دي لومړنی طبیب و چې دخپلوڅیړنو په ترڅ کې یې په هند کې دطب په اړه دانظریه ورکړه اوویې ویل چې یوناني طب په هند کې کارنه ورکوي، باید دلته په خپله دهندي طب په وده باندې لاس پورې کړل شي. ددغه کارلپاره یې هندي آري پوهان په کارواچول او څوکاله یې په دغه برخه کې په ګډه څیړنې وکړې ، جالبه خو داده چې دوی خپلې څیړنې اوطبی مطالعات په خپل وخت کې په یوزر اووسوه تنوباندې عملا ازمایلي هم دي، میابهوه لومړني طبیب و چې په طب کې یې دډله ییزو څیړنې لاره خلاصه کړه، مانا داچې یوه ډله طبیبان یې له ځان سره دې ته وګمارل چې په ګډه باید یو تحقیق وکړي، چې دیوې اوږدې مودې دڅیړنو پایله یې نامتواثر ( معدن الشفا) یا سکندري طب شو چې په ۹۱۸ هجری کال کې دهندي او اسلامی پوهانو په مرسته په ژباړې ، عملی تجربو او تحقیق سره بشپړ او تالیف کړشو. چې ټول ټال (۸۷ ) څپرکې دی، دطبی څیړنو، دناروغیو اودهغو دعلاج اودرملنې، دناروغیودډولونو په اړه اوږدې څرګندونې لري ...» (*)

موږ ته علامه رشاد راپه ګوته کړه چې د ملیندا پښولومړی نسخه او لومړنی مرکه پرپښتو باندې شوې اولیکل شوې وه، سره له دې چې په دغه برخه کې په هندکې دپاملرنې وړلیکنې شوې وې، خوڅه چې زموږ لپاره دپاملرنې وړوو هغه داچې موږ دلومړي ځل لپاره دغه نومیالي پوهورباندې خبرکړواوهغه ویده قام چې ځان یې نه پیژاند، هغه قام چې یومهال یې دآسیا په زړه کې لویی امپراتورۍ جوړې کړې وې، اوس په دې نه پوهیده چې دی څوک دی، ما مخکې اشاره وکړه، چې له لیک او لوستنه دومره لرې پاتې کړل شوی و چې هرڅه یې اوس له یاده ایستلی وو، او لکه کوڼ او رونددجهل په یوه تورتم کې داسې لویدلی و چې نه چا خو ځولی شو او نه یې له خپل جهل څخه ځان پریوه خوا کولای شو.

---

(*) وړاندیز: په دغه اړه به دا ډیره پرځای وای چې که کندهاراو یاجلال آباد پوهنتونوعلمي او دولتي مقاماتو دا همت کړی وای چې د ننګرهار او کندهار طب پوهنځیو څخه یوه د (میابهوه طبي پوهنځي یا انستیتوت ) په نامه لکه چې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دکابل طب پوهنځی اوس د ابن سینا په نامه یادیږي ونومول شي، ځکه چي ددغه پښتون عالم طبي څیړني په خپل وخت کي تر ابن سینا کمي نه وې. ما داوړاندیزځکه دلته دپوهنتونو دمسوولینوپه نامه وکړ، چي دا هیله په ډله ییزه توګه له ولسمشر څخه د یوې غوښتني په ترڅ کي وکړي، ما کولای شول چي دا وړاندیزمی هیوادمل صاحب او یا ګران یون ته هم کړی وای خو ډاریدم چي را ته وانه وایی چي: « موږ به له ما رشال صاحب او یاهم خلیلی صاحب سره مشوره پرې وکړو....»

علامه رشاد موږ ته دغه ټکی دهند دیوه نامتو عالم او دکشمیردخورا مهم تاریخ ( راج ترنګنی ) انګریزی ژباړونکی پنډت سیتارام دیادوني پربنسټ راوپیژاند، پنډت لیکلی وو:

The most famous of the Indo- Greek dynasties of Gandhara and the Punjab were Appollodotus and Menander. They conquered a great part of India. Strob tells us that Menander “ conquered more tribes than Alexander” and among his appears in Indian tradition as king Milinda who became a convert to Buddhism. His dialogue with the celebrated Buddhist Philosopher Nagasena is known as the Milinda-panho or Questions of Milinda the milinda panho was originally written in old Pushto of which no copy is now extant: it is, however, preserved in Pali in Ceylon, Burma and Siam and the earliest extant Pali copy of the 4th century A.C. was discovered in a Buddhist shrine in Japan. Buddhaghosa repeatedly refers to this celebrated dialogue as an authoritative work though not in the canon. After his death, Menander appears to have been treated with honor which recalls the passing of the Blessed One. According to Plutarch “ when Menander, one of the Bactrian kings , died on a campaign after a mild rule, all the subject towns disputed about the honor of his burial, till at last his ashes were divided between them in equal parts.”

( Ranjit Staram pandit , RAJATARANGINI English translation , New Delhi 1977 , appendix 1 p 745 )

رشاد پوهني دلومړي ځل لپاره موږ په نړۍ کي دلومړي ویا کرنا (ویی پوهني یا پښویي ) دنومیالي لیکوال مهارشي پاڼني له نامه اونامتواثرابښت ادهیای (اته څپرکي، یا اته درسونه ) له نامه اوموضوع سره آشنا کړو، علامه رشاد دهغه دپه اشت (اښت) ادهیای نومي اثرکي پښتو ویی په ګوته کړل اودهغو پرتلیزه څیړنه یي وکړه، اوداهغه کارو چي دپښتوپوهانو پاملرنه یي هغو ناویلیو ته ور واړوله چي په علمی لحاظ له زیاترو پوهانو سره ناحله وې، رشاد پوهنه په دغه برخه کي له البیروني وروسته دویمه هڅه وه چي دهندي ټولني، ادبیاتو او ژبو له پرتلي څخه یي په شلمه پیړۍ دا سی نوي څه اونوې خبرې را ویستی چي دعلمي څیړنو په ډګرکي یي دپاملرني وړ اهمیت درلود. رشاد پوهنه په دغه برخه کي یو لاربنود شوه چي په اښت ادهیاي کي بې پښتوویيو ته ورپام شو، تردیرو پورې هند پوهان په دې نه پوهیدل چي یو شمیرنا آشناویي لکه (لیکل ) اونور سانسکریت ژبې ته له کومه ورغلي دي؟ رشاد پوهني په دغه برخه کي دا لاره خلاصه کړه چي سانسکریت په خپل تول برلاسي اوقوت سره بیاهم له پښتو څخه په سلګونه ویی او جوړښتونه اخیستی دي.

علامه رشاد په دغه اړه دخپلي څیړني پیل کلونه مخکي په دغه اړه داسي وکړ: " دپاڼني نی په اښت ادهیای کي ځیني داسي کلمي سته چي اوسنی پښتوکي کټ مټ (عیناً) اویاپه لږه اوښتي بڼه یا ب دي زه غواړم په دغه مقاله کي دهغو څو نموني وړاندي کړم ..." ( علامه رشاد، لغوي څیړنه ۱ ټوک، ۱۳۸۷ کال، ۲۹۶مخ )

علامه رشاد په دغه مقاله کي د (هل ) او (پانه ) ویی په مفصله توګه تشریح کړي دي، له دغي څیړني وروسته یوشمیرنورو پوهانو داخبره په هندي پوهانو باندې ومنله چي پښتویوازنۍ لرغوني ژبه ده چي له سانسکریت او زړې فارسي دواړو سره په یوه وخت کي ژوندۍ ژبه وه او په بیلابیلوګرامري برخو کي یي پریوې بلې باندي اغیزه کړې ده.

علامه رشاد موږ ته دهندپوهني په وده کي د افغانان اوپښتنو ونډه وښوده، ده دلومړي ځل لپاره داټکي په خپلو آثاراوڅیړنو کي په ګوته کړ چي دپښتنو تاریخی منابع په هند او هندي منابعو کي پرتي دي چي دهغو دلوستلواو څیړلو په ترڅ کي باید را برسیره شي. دی لومړی لیکوال و چي دهند په بیلابیلو برخو کي لکه ابوریحان البیروني وګرزید او هلته یي دآسیا ددغو نومیالي قوم(افغانانو- پښتنو، پټانانو) هغه میراث دځان او جهان په وړاندې رابرسیره کړچي تراوسه هم ددغه قوم د(نا استوګنو) اوفرهنګ ستمودښمنانانو لپاره دباور وړنه ښکاري، رشادپوهني موږ په دغه برخه کي پرهغورښتیاووباندې برلاسي اوخبرکړو، هغه چي دهند پرنیمه وچه باندې یي دمتمدنوپښتنو د واک او ژواک داسطورو دنګي مانۍ درولي وې.

پایله:

ددغه تیوریکي بحث په پایله کي باید دغه ټکي ته اشاره وکړو چي علامه رشاد په خپل عصرکي زموږ دهنر، ادب او فرهنګ په برخه کي د دغه هیواد دآراستوګني ادبي فرهنګی غورځنګ په را ژوندي کولو کي لویه تاریخی اوعلمي دنده او رسالت ترسره کړ، ده او دده یارانو دلومړي ځل لپاره پرافغاني (پښتني ) ادب، ژبې او فرهنګ باندې د تورتم او ستم دور پای ته ورساوه اود آریانا ،خراسان او افغانستان د آراستوګنو پرګنو(اپوکینو، افغانانو، او پښتنو ) په پلوۍ یې خپل غږ له هغه نړیوال بهیرسره یو کړلکه چي انساني اواخلاقي هنګامه یي له امریکا ترآسیا خوره شوې وه او په هره برخه کي یی ځان دبریاوو جوګه کړ، په دې هیله چي زموږ نوي نسلونه به دغه روښانه مشال دپښتون او افغان آراستوګني


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ولس دتاريخ او فرهنګ  دلوړتيا هغي پوړی  ته ورسوي څوددغه هيواد هراوسيدونکي افغان ته ( مينه د زړه په وينه ) شي.
په هرډول سره له دې چي علامه رشاد، علامه حبيبي د شلمي پيړی البيروني  بللي، ځکه نو زه هغه  په دغه نامه نه شم يادولای ، خوکوم ميتود چي ده دتاريخ، انسابو، مذاهبو، اوادبياتو په اړه په خپل وخت کي دخپلوڅيړنوپه ترڅ کي کارولی هغه ترډيره حده له البيروني سره ورته والی لري  ځکه نوزه دهغه دعلمي بوختيا ، صلاحيت او تلاش په اړه د خپل دغه کالنی لکچر پای پرهغه کيسه پای ته رسوم چي هغه داالبيروني په اړه دهغه يوه معاصر پوه ليکلي ده اودعلامه رشاد  له حاله سره  هم برابرتيا کوي .

« فقيه ابوالحسن على بن عيسى الولوالجى د وفات دوخت يوه حيرانونکي واقعه بيا ن کړي ده چي ياقوت هغه له محمد بن محمود النيشاپوري څخه اخيستي ده اوهغه قاضى کثيربى يعقوب بغدادى له ( الستورکتاب) څخه نقل کړي ده قاضى يعقوب دغه واقعه دفقيه ابوالحسن له خولى څخه اوريدلي ده:
( زه ابوريحان ته ورغلم، ما هغه وليد چي سلګي وهلي ځکه يى سينه بنديدله په همدغه حال کى يي ما ته وويل چى تا يوه ورځ دجدات فاسده (يعني دموردخوا اناګاني ) حساب په څه ډول ښوولى وو؟ ماد شفقت له لارې ورته وويل: آيا په دغه حالت کي درته وښيم؟ ده وويل: " هوپه دغه وخت کى راته وښيه زه چي ددغي مسلى تر زده کولو وروسته دنيا پريږدم نسبت هغه ته به ښه وي چي په هغي باندي جاهل له دنيا څخه ولاړشم " ما هغه مساله ورته بيان کړه اوده په ياده کړه څه چي ما ورته ښوولي وو  هغه يي تکرارکړل وروسته بيا زه ورڅخه رخصت شوم اوباندي ولاړم لاپه لارکي وم چى د ژړا اومصيبت آوازمي ترغوږ شو ( يعنى البيرونى رخصت شو).
« سيدحسن برنى، البيرونى، ژباړونکى عبدالاحد عارض کابل ۱۳۵۲ ص ۱۴۳»

اوعلامه رشاد هم له دغي نړی څخه اووه کاله مخکي دپوهي له همداسي  يوي پراخي زيرمي سره خداپامانی وکړاو رخصت شو.
اروا يي ښاده.

بسى دورباید که چرخ ظفر        بيا رد کسى چون توباردير

پای

ادمنتون  کاناډا
Rasidan_g@yahoo.com


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ